مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۱/۲۹

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### دوهمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب څو پرله پسي لیکني خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نښتي کي مي دا څېړنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ووینې، د مهرباني له مخي دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

د مطبوعاتو په برخه کي د شمس النهار په نامه لومړی جریده را وایستله چي په کابل کي ئې لومړی ګڼه په ۱۲۹۰هـ ق = ۱۸۷۳ع کال د هغه وخت د یوه منور شخصیت میرزا عبدالعلي خان په مشري خپره سوه. په ځینو منابعو کي د شمس النهار جریدي مدیر عبدالقادر خان بلل سوی دئ او مراد ئې قاضي عبدالقادر یوسفزی مشهور په " قاضي قادرو" دئ. خو اروابناد نورمحمد کهګدای کښلي دي چي"عبدالقادر خان محض منشی نظامی امیر شیرعلیخان بوده و ګاهی هم مضامینی برای شمس النهار می نوشت."(۱۲)

شمس النهار جریده په ۱۸۷۸ع کال پر افغانستان باندي د انګرېزانو د یرغل په وخت کي له خپرېدو ولوېده. امیر شیرعلیخان دغه راز د کابل په بالاحصار کي یوه مطبعه تاسیس کړه. علامه حبیبي کښلي دي :" کابینۀ سید نورمحمد شاه با وجود مشکلاتیکه از ناحیۀ سیاست خارجی و حملۀ نزدیک استعمار بر افغانستان داشت، باصلاح امور اجتماعی و تنظیم عسکر و اداره کمی موفق آمدو ازآنجمله نخستین بار یک مطبع سنګی را هم بکابل وارد نمود که در بالاحصار کابل به کار طبع آغاز کرد...."(۱۳)

په دغه مطبعه کي پر شمس النهار جریدي سربېره د پېښوري قاضي عبدالقادر د عسکري قواعدو کتاب چاپ سو چي له انګرېزي څخه ئې په فارسي ژباړلی وو. په دغه کتاب کي عسکري بولی ( قوماندې) او د منصبدارانو نومونه په پښتو لیکل سوي ول او تصویرونه ئې هم درلودل.

بل کتاب دیوه هندي طبیب وو چي په افغاني دولت کي ئې د مستخدم په توګه کار کاوه او کتاب ئې د یوناني طبابت او نوي طب د تطبیق په برخه په فارسي ژبه لیکلی وو. دا کتاب هم په همدې مطبعه کي چاپ سو. ددې کتاب یوه نسخه د افغانستان په عامه کتابتون کي خوندي وه.(۱۴)

په عمراني چارو کي امیر شیرعلیخان د کابل د نوي ښار اساس کښېښوو چي د شیرپور په نامه ئې ونوماوه. د پښتو ژبه ئې د لومړي ځل له پاره دفتر ته شامله کړه او د لوړو دولتي مقاماتو له پاره ئې پښتو نومونه وټاکل. اروابناد حافظ نورمحمد کهګدای لیکلي دي :" چون وی [ امیر شیرعلیخان] بقوم و زبان ملی خود فخر داشت میخواست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زبان این قوم که صلابت لفظی و معنوی را در خود جمع دارد علمی گردد و رواج یابد. ازانرو در دورۀ دوم حکومت خویش در قطار سایر اصلاحات و موسسات وطن برای تعمیم و اشاعه زبان ملی پشتو توجه مخصوص کرد..."(۱۵)

تر ټولو مهم کار ئي د يوې کابينې تشکيل وو چې د صدراعظم مقام پکښې سيد نورمحمد شاه کندهاري ته ورکول سوی وو. د کابينې غړي دا لاندي کسان ول:

سيد نورمحمد شاه کندهاری لوی ټول مختار(صدراعظم)
حبيب الله خان وردک لوی ملک (وزير ماليه)
ارسلاخان جبارخېل لوی مين دبانډي ( وزير خارجه)
عصمت الله خان غلجی لوی مين د غرو ( وزير داخله)
ميرزا محمد حسن خان لوی کېنل ( د حضور سرمنشي)
حسين علي خان پنجشېرى ټول مشر ( سپه سالار ، وزير جنگ)
احمد علی خان چغتايي لوی ټولول ( وزير خزانه)

په دې ډول وينو چې امير شير عليخان په دغه کابينه کې د خپل خاندان له سردارانو څخه يو تن هم ځای کړی نه وو او دا کار د افغانستان په تېر تاريخ کې يو استثنايي عمل وو چې د پاچا پر پراخ نظری باندې ئي دلالت کاوه.
په دغو ټولو ريفورمونو او له انگليسانو سره د افغانستان د ملي گټو په دفاع کې د امير په سياسي هلو ځلو کې د سيد نورمحمد شاه کندهاري رول برجسته وو او د امير ښی لاس گڼل کېده.

د هند انگرېزي واکمنان او سياسيون په دې ښه پوهېدل چې امير شيرعليخان د دوی په باب ښه نظر نه لري. د لارډ سر هنري راولينسن(۱۶) د خولې خبره ده چې ويلي ئي وه :" دا مهال چې امير شيرعليخان په کابل کې اقتدار ته رسېدلی دئ د انگرېز له دولت سره هيڅ توافق نه لري او دا ځکه چې له انگرېز څخه ئي هيڅ ښه نه دي ليدلي..."(۱۷)

د امير انگرېزمشربه ورونه هم دده په انگليس ضد افکارو ښه خبر وه . د گلشن امارت ليکوال ليکلي دي چې د امير ورور سردار محمد اعظم خان له کورمي څخه خو غوړېبي کسان د پنجاب گورنر ته ولېږل او هغه ته ئي پخپل ليک کي ليکلي وه : " ... معتمدان دولت انگليس را معلوم است که سردار شيرعليخان همواره بدخواه دولت انگرېز ميباشد و من همواره نيکخواه و دوست بوده هرگاه سرکار انگرېز مدد اينجانب نموده رعايت فرمايد مادام الحيات شيوۀ خدمتگاری و طريقۀ چاکری از دست نخواهيم داد."(۱۸)

امير شيرعليخان د منطقې په سياست پوه سړی وه او په سيمه کې د دوو زبرځواکونو په رقابت ئي هم سر خلاص وو. وايي چې يوه ورځ په کابل کې د هند حکومت مسلمان نماينده عطامحمد د لارډ ليټن دا خبره امير شيرعليخان ته وکړه چې ويلي ئي وه" افغانستان د غنمو يوه دانه ده چې د ژرندي د دوو ډبرو ترمنځ پرته ده." امير په جواب کې ورته ويلي وه" ليټن اشتباه کوي افغانستان د ترازو شاهين دئ چې د دواړو پلو توازن په برابرېږي."(۱۹)
سيد نورمحمد شاه کندهاري ته د افغانستان د هغه وخت په رسمي اخبار شمس النهار کې د "بوذرجمهر(۲۰) افغانستان" لقب ورکول سوی وو. ددغه اخبار د ۱۲۹۰هـ ق کال د شوال المکرم د پنځلسمي گڼې په ۱۳ مخ کې ليکل سوي دي:

"... باقبال فرخ بال بندگان اشرف اراکين اين سلطنت هم چيده چيده اشخاصی اند که بالفعل درين سلطنت نظير شان دشوار، اعنی صدراعظم سيدنورمحمد شاه صاحب لوی تول مختار و مستوفی الممالک ميرزا حبيب الله خان لوی ملک که هر دو از فرط درستی بوذرجمهر افغانستان اند خصوصاً لوی تول مختار صاحب که جهانديده و باکثر دول گشته است از سرافرازی اين چنين اشخاص اغلب است که امور احسن انتظام سلطنت که ازان بهبودی ملک و رفاه عالم و خير سرکار باشد بظهور خواهد رسيد..."
پر افغانستان باندې د انگليس دوهم وار يرغل او د هغه په تعقيب د امير عبدالرحمن خان يوويشت کلن استبداد د امير شير عليخان د دورې اصلاحات په خاورو ولړل خو محوه ئي نه کړل. ددغه اصلاحي خوځښت پوړندو د امير عبدالرحمن خان تر مړيني څو کاله وروسته د مشروطيت د دوهم غورځنگ د لارويانو په لاس بلې لمبې پورته کړې.
امير شيرعليخان مدنيت خوښوونکی سړی هم وو.دی د افغانستان په پاچهانو کې لومړی پاچا وو چې پتلون او کرتی ئي اغوستله، توپۍ ئي پر سر کوله، سگرېټ ئي څکول او پر مېز ئي ډوډۍ خوړله.
ده د اروپا اخبارونه روزمره مطالعه کوله چې زياتره به د قاضي قادرو له خوا ورته ترجمه کېدل.
دده د صدراعظم سيد نورمحمد شاه په کابينه کې د صدراعظم په گډون ټول وزيران باسواده او د مطالعې څښتنان ول.
امير پخپله هم د يوه موډرن سياستمدار په شان "بياض" (diary) درلود او ورځني حوادث او د جنگو بيانونه به ئي پکښې کښل. مولوي نورمحمد نوري په "گلشن امارت" کې د امير له بياض څخه څو ځايه نقل قولونه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه وطندوست امیر د انګرېزي استعمار د یرغل له لاسه دنیا ته د خپل مظلومیت د آواز پورته کولو په نیت له کابله مزار شریف ولاړ او خیال ئي وو چي د همدي مقصد له پاره د روسیي مرکز پیترزبورګ ته ولاړ سي، خو په مزار شریف کي ناروغ سو او د ۱۸۷۹ع کال د فبرورۍ پر ۲۱مه د ۵۶ کالو په عمر وفات او د مزار شریف ښار په روضه کي خاورو ته وسپارل سو.

د عین الوقایع مؤلف محمد یوسف ریاضي هروي(۲۱) د خپل دغه کتاب په ۱۱۶مخ کي د امیر شیرعلیخان د وفات تاریخي ماده چي د هرات د یوه شاعر "ګوهري" له خوا ویل سوې وه، داسي راوړې ده:

به گوش هاتف غیبی که خلق شد بی میر
دوباره ســــــال وفاتش به من نمود عیان

یا دا بیت:

چراغ اهل جهان بی سر آمد از فوتش
چو بود زندگی او چــــــراغ اهل جهان (۲۲)

قاضي عطاء الله خان د انګرېز افسر او د" افغان دوهم جنګ" کتاب د لیکوال کرنیل هنا (Colonel Hanna) له خولې کښلي دي:
"په تاریخ کښي چه کومه مستقله درجه به شیرعلي خان ته ورکېدی شي نو د هغه فیصله به په دی نه کېږي چه آیا د هغه اندروني انتظام کامیاب وو او که نا کامیاب ـ او نه به په دې کېږي چه په کورني ژوندون کښي د هغه څوک خوش وو او څوک ناخوښه، بلکي د هغي فیصله به صرف د هغه په " بیروني پالیسی" باندي کېږي او بالخصوص په دې خبره به کېږي چه هغه د انګرېزي التیمېټم د مطالباتو په سلسله کښي نه خود خپل آبرو او نه د خپل ملک د آزادۍ نه یو بخرۍ هم فیرنګیانو ته پرېښودو. کوم خلق چه آینده واقعاتو ته صرف په دې نظر ګوري چه څه رنګ هغوی د هغه ذات او د هغه خاندان ورک کړو ، ممکن ده چه هغوی د شیرعلي دې رویي ته د یو لېوني یا د یو بې وقوف سړي رویه ووایي ـ مګر که چرې په دې واقعاتو باندي د ټول افغانستان د مستقبل تاریخ په رڼا کښي غور وشي نو سړی به په دې نتیجه ورسي چه فیرنګیانو ته د شیرعلي د نه ټیټېدو رویه د هغه د دوراندېشی او حب الوطنی لوی شهادت دی ...."(۲۳)



ناست کسان له کیڼ لور څخه : منشي بختیار په کابل کي د انګلیس نماینده، د صفدر علیخان کوچنی زوی، امیر شیرعلیخان، ولیعهد شهزاده عبدالله جان،صفدر علیخان پنجشیری، د صدرعلیخان بل زوی،ارسلاخان جبارخیل خارجه وزیر

ولاړ کسان له کیڼ لور څخه : شاه مرد خان، دبیرالملک میر محمد نبي واصل، خوشدل خان لویناب، عطامحمد سدوزی د انګلیس د نماینده وکیل، جنرال حسین علي خان پنجشیری، شاغاسي شیردل خان لویناب، سید نور محمد شاه صدراعظم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

**د دوهمې برخې لمنليکونه:**

۱۲ــ آهنگ، محمد کاظم، سير ژورناليزم در افغانستان ، صــ ۷ ( د آريانا مجلې د ۳ کال دريمي گڼې په حواله).
۱۳ــ وگ : زر مقالې/ هزار مقاله، صــ ۴۷۷
۱۴ــ هماغه اثر، ۴۷۸مخ
۱۵ــ وگ :" اسناد و ياداشت های تاريخی" ــ اريانا مجله، ۱۰ گڼه، ۲۸ مخ ، عقرب ۱۳۲۲
۱۶ــ Sir Henry Rawlinson(1864-1925) د انگلستان يو لوړ رتبه پوځي افسر او د جنرال فردريک رابرټس نږدې همکار او ملگرى وو. دى د افغانستان په چارو کې د لويو تجربو او تخصص څښتن وو.
۱۷ــ عطايي ، ۹۱مخ
۱۸ــ نورى، نورمحمد، گلشن امارت ، صــ ۸۴، چاپ ۱۳۸۲ش، کابل
۱۹ــ عطايي ، ۱۰۸مخ
۲۰ــ بوذرجمهر يا بزرگمهر د ساساني پاچا نوشيروان وزير وو. په عربي او فارسي کتابو کې دده د استثنائي هوښيارى او پوهې بيانونه راغلي دي. ساساني پاچهانو له ۲۲۴م څخه تر ۶۵۱ء پورې واکمنی چلولې وې .
۲۱ــ محمد يوسف رياضي د محمد حسن سدوزي زوى د هرات د واکمنو سدوزو له کورنۍ څخه وو. دى بحرالفوايد په نامه يو کليات لري چې په ۱۳۲۴هـ ق کال په مشهد کې چاپ سوى دئ. دا کليات دوولس برخې لري. دريمه برخه ئې "عين الوقايع" نوميږي.عين الوقايع په جلا توگه په ۱۳۶۹ش کې هم چاپ سوى دئ.
۲۲ــ په لومړي بيت کې" خلق شد بی مير" تاريخي ماده ده چې ابجدي قيمت ئې ۱۲۹۶هـ ق کيږي. په دوهم بيت کې تاريخي ماده"چراغ اهل جهان" تاريخي ماده ده چې ابجدي قيمت ئې ۱۲۹۹ کيږي او له دې عدد څخه چې د "چراغ" د سر د توري قيمت (۳) منفي سي ۱۲۹۶پاتيږي او همدا په هجري قمري حساب د امير شيرعليخان د وفات کال دئ.
۲۳ــ د پښتنو تاريخ ـ دويم جلد ــ ۳۷۳و۳۷۴ مخونه

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ